د مینیسوټا د نوي زیږیدلي د سکرینینګ برنامه

# د آډیولوژۍ لیدنې لپاره ستاسو د ماشوم چمتو کول

ستاسو د ماشوم د آډیولوژۍ ملاقات

نېټه: (MM/DD/YYYY)

وخت: (AM/PM) یا سهار/ماښام

د کلینیک نوم:

د کلینیک تلیفون شمیره:

## آډیولوژیست څه ته وايي؟

یو آډیولوژست د روغتیا پاملرنې مسلکي دی چې په نویو زیږیدلو کوچنیانو، ماشومانو او لویانو کې د اوریدلو د ضیاع (له لاسه ورکول) تشخیص او مدیریت کولو لپاره روزل کیږي. یو څوک چې د اوریدلو له لاسه ورکولو سره مخ وي ښایي ځینې غږونه واوري پداسې حال کې چې نور یې ښایي هېڅ څه وانه وري. د غوږ (غوږونو) د یوې یا ډیرو برخو سره د ځانګړې ستونزې پراساس د اوریدلو د ضیاع مختلف ډولونه شتون لري. د ماشومانو د باتجربه آډیولوژست لخوا د اوریدلو د ضیاع ډول او شدت دواړو بشپړ ارزونه مهمه ده ترڅو د اوریدلو د ضیاع تعقیب او مدیریت لپاره تر ټولو دقیق پلان ډاډمن شي.

## زما ماشوم ولې د آډیولوژیست سره ګوري؟

د اوریدلو هغه معاینه چې ستاسو ماشوم د زیږیدنې پرمهال/له زیږیدنې سمدستي وروسته ترلاسه کړي د سکرینینګ معاینه وه. که چیرې یو ماشوم د سکرینینګ معاینه کې بریالي نشي، دا مونږ ته وايي چې دوی د آډیولوژیست لخوا نورې معاینې ته اړتیا لري. د آډیوولوژست لخوا بشپړ ارزونه یوازینۍ لار ده چې په ډاډمن ډول پوه شئ چې ماشوم مو هغه ټول غږونه اوري چې د وینا او ژبې د ودې لپاره مهم دي.

## ملاقات به څومره وخت ونیسي؟

ملاقاتونه کیدی شي 1-3 ساعته وخت ونیسي. ځیني وخت دا تل ممکنه نه وي چې د اوریدلو معاینه په یوه ملاقات کې پای ته ورسیږي. که دویم ملاقات ته اړتیا وي، دا به د امکان تر حده ژر مهالویش شي.

## زه باید د خپل ماشوم ملاقات لپاره له ځان سره څه راوړم؟

- ستاسو د بیمې کارت
- د اړتیا په صورت کې یو ریفرل (راجع کول)
- د درملو اوسنی لیست
- د اوریدلو د مخکینیو معاینو پایلې او/یا ارزونې
- په ماشومتوب کې د اوریدلو د ضیاع کورنۍ تاریخ په اړه تفصیل
- د هغو اشخاصو نومونه/ادرسونه چیرې چې تاسو ښایي راپور لیږل وغواړئ

## زه باید د ملاقات دمخه څه وکړم؟

کله چې ماشوم مو ویده وي نو معاینې په ډیره اسانۍ سره ترسره کیږي. د دې ډاډ ترلاسه کولو لپار چې ماشوم مو د معاینې پرمهال ویده دی:

- خپل ماشوم مه پریږدئ چې د ملاقات دمخه یا کلینیک ته د تلو په مهال موټر کې ویده شي.
- د ملاقات څخه دمخه د خپل ماشوم تغذیه کولو څخه ډډه وکړئ. تاسو به وکولی شئ خپل ماشوم په کلینیک کې د معاینې دمخه تغذیه کړئ.



## د آډیولوژۍ ملاقات په جریان کې به څه پیښ شي؟

آډیولوژست به ستاسو د ماشوم طبي تاریخ په اړه، د دې ماشوم سره ستاسو د امیندوارۍ/کار/زیږیدنې په اړه، او د کورنۍ تاریخ په اړه معلومات راټول کړي.

پداسې حال کې چې ستاسو ماشوم ویده وي، معاینه کوونکی به ستاسو د ماشوم غوږونه معاینه کړي او د اوریدلو اززونه ترسره کړي. د ترسره شوې ازموینې ډول کې کېدی شي شامل وي:

- د دماغ د اوریدنې غبرګون (ABR) - ستاسو د ماشوم په تندي او غوږونو کې به سینسرونه ځای په ځای شي ترڅو غږونو ته د دماغ غبرګون اندازه کړي. ایرفونونه به په هر غوږ کې کیښودل شي ترڅو د معاینې غږونه وړاندې کړي. ماشوم به مو په فزیکي توګه غږونو ته ځواب ورنکړي، مګر سینسر به دا اندازه کړي چې ماشوم مو مختلف غږونو ته په څومره ښه توګه ځواب ورکوي. دا معاینه د دې معلومولو کې مرسته کوي چې ایا د اوریدلو کومه ضیاع شتون لري. که چیرې د اوریدلو ضیاع شتون ولري، دا کولی شي معلومات چمتو کړي چې د اوریدلو ضیاع څه ډول ده.
- Otoacoustic Emissions (OAE) - په هر غوږ کې به یو نرم سر لرونکی ربړ کیښودل کیږي ترڅو نرم غږونه وړاندې کړي او د غږ لپاره عکس العمل اندازه کړي چې هغه وخت پیښیږي کله چې غوږ په نورماله توګه فعالیت کوي. دا معاینه معمولا د نورو معاینو سره په ګډه کارول کیږي ترڅو دقیق تشخیص چمتو شي.
- ټیمپانومیټري (Tympanometry) – په هر غوږ کې به یو نرم سر لرونکی ربړ کیښودل کیږي چې دا اندازه کوي چې د غوږ پرده څومره ښه حرکت کوي. کله چې د نورو معاینو سره په ګډه وکارول شي، دا معاینه کولی شي د اوریدلو د له لاسه ورکولو احتمالي لامل په اړه ځینې نښې وړاندې کړي.

## ایا زما ماشوم به درد احساس کړي؟

ستاسو ماشوم به د معاینې په جریان کې هیڅ درد احساس نکړي. د نرم رابړي سرونو او سینسرونو ځای په ځای کول به ستاسو ماشوم ته زیان ونه رسوي. کله چې د معاینې تجهیزات په لومړي ځل د دوی په غوږونو کې په ځای کیږي نو ډیری ماشومان به غال مغال وکړي او خوزیږي به مګر کله چې نږدې او تړل شوي ونیول شي نو ارامه به شي.



## ایا زه به د معاینې پایلې سمدستي ترلاسه کړم؟

آډیولوژست به تاسو ته ووایي چې د معاینې پایلې به کله شتون ولري او پایلې به تاسو ته څوک وسپاري. که چیرې د پایلو په اړه پوښتنې شتون ولري، تاسو باید د آډیولوژۍ کلینیک سره اړیکه ونیسئ.

## څه به وشي که زما ماشوم د ټولې معاینې په جریان کې ویده نشي؟

هرڅومره چې ستاسو ماشوم کوچنی وي، ډیر احتمال لري چې دوی به د معاینې په جریان کې خوب وکړي، مګر ځینې وخت اضافي ملاقات ته اړتیا وي. د ځینو لویو ماشومانو لپاره، ستاسو د ماشوم ډاکټر لخوا ښایي د مسکن کونکي درمل سپارښتنه وشي ترڅو د بشپړې ارزونې لپاره د ټول اړین وخت جریان کې په خوب کولو کې مرسته وکړي. د مسکن کولو احتمال کمولو لپاره، دا سپارښتنه کیږي چې تاسو ملاقاتونه د امکان تر حده ژر جوړ کړئ.

## څه باید وشي که کوم څه رامنځته شي، او زه اړتیا ولرم چې د خپل ماشوم د ملاقات وخت بیا تنظیم کړم؟

دا ډیره مهمه ده چې ستاسو ماشوم د آډیولوژست سره وګوري. که تاسو نشئ کولی خپل مهالویش شوی ملاقات ترسره کړئ، مهرباني وکړئ د اوریدلو معاینه سمدلاسه له سره تنظیم کړئ.

DEPARTMENT OF HEALTH
بیاکتنه ترسره شوه په 05/2024
ID # 56451

د مینیسوټا د نوي زیږیدلي د سکرینینګ برنامه | www.health.state.mn.us/ newbornscreening P.O. باکس 64899، سینټ پال، MN 55164 د مختلفه ښه کې د دې معلوماتو ترلاسه کولو لپاره:
د health.newbornscreening@state.mn.us سره اړیکه ونیسئ
یا 7772-664-(800) ته زنګ ووهئ *ژباړونکي شتون لري